پلوشې چې کله خپلو مرغو ته دانې اچولې نو په زړهٔ کښې ئې راغلل چې که زهٔ هغه هم يوه مرغۍ وے۔



نو په خوند به الوتم- کار روزګار به مې
نۀ وۀ او خوبونه به مې کول-



په دې کښې ورله ورور ائيس کريم
راوړلو- پلوشې د پَنجرې خوا ته ائيس
کريم خوړلو- ډېر خوند ئې ورکړو-



کهٔ زهٔ مرغۍ وے نو دا خوراکونه به مې
نهٔ شو خوړے- جامې به مې نهٔ شوې
اچولې-



نۀ به مې د مور سره امداد کولے شۀ- نۀ به مې
لوبې کولې شوې او نۀ به مې ليکل کولې شول-



پلوشې لږ سوچ وکړ او مرغۍ يې ازادې کړې- هغه د مرغو په ازادولو ډېره خوشحاله شوه-



د پلوشې خپل ټول کارونه کول خوښ دي- اوس چې مرغۍ په هوا کښې په الوتو ويني نو ډېره خوشحالېږي-



**بنیادي سوال**

تاسو د خپلو کورني ساتلو څناورو او مارغانو خیال څنګه ساتئ؟

## د لوستلو صلاحیتونه او حکمت عملۍ

اواز: د حروفو اوازونه
د ټکیو پنګه: داني، کار، ارام، ازاد، امداد
ژب داني: سوالیه ننبه او کوما "،"

## لېولډ ریډر

په یو کلاس کښې د لوستلو د صلاحیت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، مینځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحیتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ ریډر په نوم مختلفې قیصې لیکلې شوي دي- د دې لېولډ ریډر متن په رو رو سېوا کړے شوے دے- د لېولډ ریډرز بنیادي مقصد ماشومان خپلو اکه لوستونکي جوړول دي- د 24 هفتو د پاره د لېولډ ریډر 8 سېټونه تیار کړي شوي دي- د هر لېولډ ریډر سېټ د پاره درې هفتې ټاکلې شوي دي- د هر یو لېولډ ریډر په شاتني مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو متعلقه مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي-

د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړۀ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کۀ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څۀ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښوونې

**د وړومبيو دريو مخونو نه پس لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-**

1. قيصې د څۀ په حقله ده؟
2. د قيصې په شروع کښې څۀ کېږي؟

**د نيمې قيصې نه پس لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-**

1. پلوشې له ورور څۀ راوړل؟
2. هغې ائيس کريم چرته خوړلو؟
3. هغې څۀ سوچ وکړو؟

**د قيصې په اخره کښې لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-**

1. پلوشې مرغۍ ولې ازادې کړې؟
2. د دې قيصې نه څۀ سبق ملاؤ شو؟
3. قيصې په خپلو ټکيو کښې واوروئ-


www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلکو په مرسته د امريکې بين الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن شوې ده- دا مواد يو ايس ايډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو ايس ايډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-